
د لیلی او مجنون د
مینے قیصہ
شاعر عبدالوہاب
ای کتاب
اورنگ زیب قاسمی
PosterMyWall.com

# قیصه

# د

# لیلیٰ او مجنون د مینې

شاعر: عبد الوهاب

ای کتاب: اورنګ زیب قاسمیؒ

# قیصه د لیلیٰ او مجنون د مینے

یوه ورځ مجنون ته وے دلیلیٰ مور　　ملاقات له د لیلی مه رازه نور

مخلوقات راپورے خاندیٰ چم په چم　　بیا په دے لوري راوانخلے قدم

بیا رانشے په دے لوری اے مجنونه　　په گرزونو به دے دل شیٰ اندامونه

خبر نه دے لا په حال د لیلیٰ پلار　　که خبر شیٰ تا به اوخیژئیٰ په دار

مجنون اووے په دار غواړمه ختل زه　　پرے به نگدم د لیلیٰ د مخ لیدل زه

څوک چې زیٰ په صداقت د یار دیدن له　　واپسیٰ ژوندے بیا نه رازیٰ وطن له

زۀ چې دلته کې راتلم مرگ مې لیدلے　　لاړ بن نه شم که په تن مې جوړ شیٰ څلے

یا به اوکړمه دیدن د پریٰ وارے　　یا به مړ شم مسافر چرته د لارے

مجنون اوکړے دا خبرے شو بے تابه　　هوش ئے لاړلو شاعر عبدالوهابه

## مصرعے

ته مې د حاله خبر نه شوے
زما زړگے لیلیٰ کویٰ د غم دردونه
راشه په حال زما اگاه شه
په غنم رنگ مخ مې د اوخکو زیٰ رودونه
مور دے په کلیٰ باندے بند کړم
د ناچارے د لاسه کړمه فریادونه
د لیلی پته خدایا نیشته
د قیس ښکاره شول په ژړا د مخ هډونه

مجنون اوکړلے مصرعے چي په دا رنګ
چا لیلیٰ کړله خبره هغه درنګ

غرض دا چے چا لیلیٰ کړله خبر
سمدستیٰ شوله د کوره را بحر

خوار مجنون ئے اولیدو په زړه بیمار
دوړي خاورې ئے پرتے وے په رخسار

لیلیٰ راغله ورته ئے اووے په دا شان
اے مجنونه سر مي شه درنه قربان

پاڅه اومي کړه دیدن چې شے خوشاله
مجنون سر ورته راپورته کړو برحاله

ورسره شوه غیږ په غیږ غاړه په غاړه
ورته اوګوره له عشقه امان غواړه

چئ دویٰ دواړه شو مشغول یو ځو منټه
لیلیٰ اووئیل راغلے یم په پټه

ته اوس پاتے شه زه ځم درنه واپس
محبت مې درسره دے یو په لس

## مصرعے

مجنون یوازے پاتے کیګي
په محبت ترے لیلیٰ اخلیٰ رخصتونه

عاشق سیزلي په اوور ژاړیٰ
هغه شان غواړیٰ د سرکو شنډو سرونه

دمجنون نه چې لیلیٰ اخلیٰ رخصت
مجنون ژاړیٰ او کویٰ زاریٰ منت

ته چي لاړے زه دے پریښودم یوازے
دا په ما باندے دے څه اوکړے ناسازے

خدائے خبر دے که مو بیا اوشیٰ دیدن
چې راځي مخ به مې پټ وي په کفن

مجنون اوکړے دا خبرے شو بے زاره
نسکور پریوتو په زمکه د خفګانه

دے خو پریږده چي ژړیږي په دا شان
اوس کوومه دلیلیٰ درته بیان

چي ليلۍ شوله داخله په خپل كور    په غصه ورته راپورته شوله مور

ورته وائۍ جينۍ كوم طرف وے تلے    لټ په لټ مي درپسے اوكاته كلے

ليلۍ زيره شوه د ويرې او خفگانه    مور ئے پوهه شوه په عقل له بيانه

دا خبره په پرده كې شوله پاتے    په دے وجه ورزے اووتلے زياتے

د مجنون سره پيدا شو ډير وسواس    اوس به وړاندے درته نور كوومه بحث

مجنون اووے چې رانغله ليلۍ بيا    په غمونو كې ئي زړه شو مبتلا

ماته ئے وئيلے اوو مجنونه زه به راشم    دوباره به ستا په حال باندے اگاه شم

چي عاشق شۍ هغه سپک شۍ په دنيا كې    تمامۍ عمر به پروت وۍ په سودا كې

لكه ما غوندے به هيڅوک شيدا نه وۍ    داسے هيڅوک به له ياره جدا نه وۍ

داسے غم باندے به نوۍ گرفتار څوک    نه به وۍ دا رنگ په زړه باندے بيمار څوک

د ليلۍ په عشق كښي خدايه ديوانه شوم    ډير زهير پاتے د غم په زمانه شوم

## مصرعے

د عشق لوئے درياب دے خدايه
زه پرے لاهو شوم ليلۍ لاس نه راكوينه
لكه چې زه يم داسے ته وے
تل به خندا وے ډير به نه وو تكليفونه
دداسي ژوند نه مي توبه ده
د اوور لمبه ده سرے سرۀ سكروټه كړينه
عبدالوهابه مجنون ژاړي
په بيابان كې غريب پروت سر ټكوينه
توبه توبه د عاشقۍ نه

## اوس به کچکول په لاس د یار کوڅے له ځینه

مجنون زان کړو په تلوار تلوار راټول — مبارک لاسو کئے واغستو کچکول

د  لیلئ کوڅے ته اورسید یارانو — دے وران شو په مثال د فقیرانو

په کوڅه کي ئے اواز اوکړوراکړے خیر — مسافر یم ګرځیدلے یمه ډیر

د لیلیٰ د کوه سپي شو رابهر — مجنون ښکل کړو په تلوار تلوار په سر

دغه سپي چي وو په اصل د لیلیٰٔ وو — مجنون ځکه ورسره په مشغولا وو

## مصرعے

لیلیٰ وئیل مورے خیر راکړه
د خدائےپه نوم ئے دے فقیر له ورکوومه
مور ئے وئیل خیر ورله یوسه
چي په کوڅه کې راته نکړی اوازانه
لیلیٰ خیر واخست ورله لاړه
سپې ئے مجنون سره جولیئ کې اولیدنه
لیلیٰ شوه پوهه چي صادق دے
ځکه په مینه مې د سپی مخ خکلوینه
دا په قلاره ورنزدے شوه
په لیونی مجنون ئے واچول سلامونه
مجنون ویل خیر دے واپس یوسه
بهانه مې دا وه ما کول ستا دیدونه
لیلیٰ ترې زی عبدالوهابه
مجنون بے تابه باندے باندے بیا راغلل غمونه

مجنون هم شو واپسی له هغه ځایه — دا به ئے وے زرے زرے دے کړمه خدایه

دا به ئے وے په مخ ئے اوخے تلے باران — مزلونه ئے کړه په دشتو بیابان

عاقبت چې شو داخل په یو ځنګل کے — ګریوان څیرے وو کچکول ئے په منګل کے

لیونے مجنون پریږدمه چې ژړیګی
اوس به حال د لیلیٰ وائم چې به کیګی

اوس به حال د لیلیٰ وایم مکړے شور
چې ستی کړم عاشقان واړه په اوور

یوه شپه لیلیٰ اوده وه په پالنګ
شو حضور ورته مجنون په داسے رنګ

شو حضور ورته مجنون په داسے شان
چې مړ پروت وو پټے سترګے په میدان

مړ په سترګو چې دے اولید کوم ساعت
هغه دم شوله راویښه په هیبت

هغه دم شوله راویښه په تلوار
د پالنګه شوه په زمکه راګزار

له پالنګه راګزار شوله په زمکه
ساه ئے ورکړه خوره پریوته په زمکه

ساه ئے ورکړه خوره پریوته نیازبینه
افرین دے وی په داسے رښتیا مینه

افرین دے وی په داسے مینه باندے
چې په صدق وژنی زان له بل نه وړاندے

مینه هغه وه پخوا چې د لیلیٰ وه
هغه نه لکه چې مینه زما ستا وه

**مصرعے**

عاشقی دغسې پکار ده
لکه لیلیٰ چېٔ په زړه یوړو ارمانونه
مجنون په طمع به لا ناست وی
په لیلیٰ جوړ شولو د خاورو انبارونه
عبدالوهابه لیلیٰ مړه شوه
قیس لا امید په زړه لری چې را به شینه

غرض دا چې لیلیٰ مړه شوله د غمه
خپل پردی ورته تمام شولو راجمع

څوک ئے سترګے ښکلوی څوک ورته ژاړی　　څوک ئے مخ ځرګندوی او څوک ئے نغاړی

څوک ئے لاس کړی را اوچت په ډیره مینه　　څوک ئے ستائی څوک دعا ورته کوینه

لنډا دا چې نمر را اوختو سبا شو　　خلق قبر کنستو باندے لګیا شو

قبر جوړ شو چې غرمه نزدے کیدله　　په ارمان ئے وردننه کړه بلبله

لیلیٰ خخه شوه قیس لا هغسې وایی　　خدایه کوم ځائے کې دیدن به د لیلیٰ وی

اوس قیصه درته د قیس شروع کومه　　عاشقان پرے همه واړه سوزومه

قاصد یوړو ناځاپی ورله خبر　　لیلیٰ لاړه له دنیا نه په سفر

ته لا هغسې ژاندے ګرځے مجنونه　　په لیلیٰ باندے شوے خاورے انبارونه

چې مجنون د اواز واورید په دا شان　　د اواز سره ګزار شو په میدان

د اواز سره ګزار شولو دے غلے　　زړه ئے اوچاودو له غمه د بلبلے

زړه ئے اوچاودو په غم د نازنینے　　تویولے به ئے د اوښکو په ځائے وینے

په ارمان ارمان چې ستړے په ژړا شو　　بیا روان په لور د قبر د لیلیٰ شو

لنډه دا چې هغه قبر ته قریب شو　　ساه ئے ورکړه رزق ختم د غریب شو

ساه ئے ورکړه د لیلیٰ د ګور د پاڅه　　په دے ځائے مې قیصه واړه کړله خلاصه

ای کتاب: اورنګ زیب قاسمی
قاسمې، کاټلنګ ، مردان